د یوناما محترم مشر بان کویش،

د هر څه نه مخکی، تاسی ته خپلی نیکی هیلی وړاندی کوو. له دی امله چی تاسی ، د خپلی مخکینی وعدی په اساس، په ۲۰۱۳ میلادی کال کی ، په افغانستان کی د ملکی تلفاتو په ا ړوند د یوناما راپور له موږ سره شریک کړی، موږ دغه اقدام ستایو او مننه کوو. یقینا دا یوه ښه پیلامه ده چی د خپریدا نه مخکی مو نوموړی راپور موږ ته رالیږلی دی. دا به په راتلونکی کی، د حقایقو د موندلو او د ملکی تلفاتو د مخنیوی په جهت کی مثبت اغیز ولری.

تاسی ته معلومه ده چی د خپل ولس د سر، مال او آبرو ساتنه، د تحریک د پیل او زموږ د روان جهاد له سترو هدفونو څخه دی. ملکی تلفات هرځای، هروخت او د هرچا له خوا چی ترسره کیږی ، زموږ لپاره د اندیښنی وړ دی. موږ د یوی تګلاری په توګه ، د ملکی تلفاتو مخنیوی ته ژمن یو.

ضمنا، باید ووایو چی د ملکی تلفاتو مسئله د سیاسی اهدافو لپاره د تبلیغاتی وسیلی په توګه استعمال نشی لکه چی د تیرو څو کالونو راهیسی دغه لړئ را روانه ده. دا یوه بشری مسئله ده، باید له همدی زاویی ورته وکتل شی. په همدی اساس ، د ملکی تلفاتو د مسئلی د حل لپاره موږ تاسی سره دائمی تماس او هماهنګی ته اماده یو.

تاسی ته دا هم معلومه ده چی داسلامی امارت د ملکی تلفاتو د مخنیوی پخاطر، یوه ځانګړی کمیسون جوړ کړی دی. ددی کمیسون د جوړیدو هدف دادی چی د ملکی تلفاتو د هری پیښی څیړنه او مخنیوی وشی.

دتاسی د رالیږلی راپور په باره کی باید ووایو چی دغه را پور زموږ په نظر، د تیرو کالونو په شان حقایق نه څرګندوی او یوطرفه ادعاوی د واقعیتونو په نوم پکښی درج شوی دی . د ځینو برخوسره یی موږ موافق نه یو.

موږ کولی شوای چی د تاسی د راپور ډیرو ادعاوو ته مو ماده وار ځواب ویلی وای خو د تاسی له خوا د تعیین شوی وخت د کموالی له امله، موږ د څو عمومی کتنو او تبصرو په بڼه کی خپل دریځ په لاندی ډول تاسی ته وړاندی کوو. هیله ده غور پری وکړی:

لومړی- د سرک له غاړی بمونو په هکله چی تاسی پخپل راپور کی ورته اشاره کړی، باید ووایو چی زموږ بمونه کنترول کیدونکی بمونه دی. د هدف پرته په ملکیانو چاودنه نه کوی. داهم حقیقت دی چی د سرک له غاړی بمونو په پیښو کی ملکی کسانو ژوند له لاسه ورکړی . لاکن دغه چاودنی اسلامی امارت ته منسوبول بی انصافی ده.

موږ پوهیږو چی ځینی استخباراتی کړئ زموږ د بدنامولو او د خپلو اهدافو لپاره دغه ناوړه کار ترسره کوی. کله، کله د شخصی دښمنیو په اساس د انتقامی کاروایو له امله د سرک له غاړی بمونه ایښودل کیږی. همداراز، پخپله امریکایی قواوی دغه کارونه ترسره کوی. داسی کسان شته چی خارجی عسکر یی د بمونو د ایښودلو په جریان کی عملا لیدلی دی. یو تعداد بمونه چی مقناطیسی بمونه دی او زموږ ددښمنانو له خوا ایښودل شوی وی، او د ملکی تلفاتو سبب ګرځی، په هغو د سرک له غاړی د بمونو ګمان کیږی . په حقیقت کی هغه د سرک له غاړی بمونه، نه دی. دغه دو اړه موږ سره تړاو نلری.

تاسی پخپل راپور کی ویلی چی په ۲۰۱۳ کال کی، ۵۶۱ ماشومان وژل شوی او ۱۱۹۵۶ زخمیان شوی ، دا مو طالبانو ته منسوب کړی، دغه ادعا اسا س نلری. دغه شان تورونه وخت په وخت، د امریکا او د کابل د اداری له خوا زموږ په خلاف پوری کیږی. زموږ په نظر، تاسی د هغوی ادعاوی پخپل راپور کی ځای په ځای کړی او تائید کړی دی.

دوهم- تا سی په صفحه کی لیکلی چی د کومی واقعی مسئولیت چی کومه ښکیل خوا په غاړه وانخلی، موږ یی بیا په خپل آند یوی خواته منسوبوو. باید ووایو چی موږ د افغانستان په هره سیمه کی کسان اوراپورتران لرو. د هری واقعی او تلفاتو راپور په هماغه وخت کی موږ ته را کوی چی موږ یی سملاسی پخپل سایټ کی خپروو. نو هغه پیښی چی موږ یی مسئولیت نه دی منلی ، باید موږ ته منسوب نشی بلکی نامعلومو لوریو ته نسبت ورکړل شی څکه ددغو پیښو په هر حالت کی یوازی موږ پوری تړل غیرعادلانه عمل دی . د ملګرو ملتونو په شان نړیوالی موسسی څخه دا توقع کیږی چی پدی هکله، د انصاف په اساس بیطرفانه قضاوت او عمل وکړی او د اټکل له مخی یی راپور ترتیب نشی.

دریم- تاسی ته معلومه ده چی په بازارونو، مارکیټونو، ښوونځیو او د بس د تم ځایونو په هکله ، د اسلامی امارت وسله والو مجاهداینو ته زموږ د مشر قطعی هدایت دی چی پدغو ځایونو کی د بریدونو او چاودنو څخه ډډه وکړی او ددی حکم د تطبیق لپاره

عملی اقدامات هم شوی دی. همداراز، پداسی ځایونوکی چاودنی  موږ هروخت غندلی او غندو یی خو مونږ پدی هم پوهیږو چی  دغه ډول واقعات زمونږ د بدنامی  لپاره او زمونږ او د ولس ترمینځ د درز د پیداکولو په مقصد ترسره کیږی.  هیله ده چی  یوناما د همدی باریکیو  او واقعیتونو په پام کی نیولو سره  دغه ډول هره واقعه په موږ پوری ونه تړی.

څلورم- تاسي پخپل راپور کی څرګنده کړی چی ځینی ملکیان د اخطار سره سره، د بهرنیو قواوو کاروان ته نږدی کیږی چی په نتیجه کی ووژل شی. زمونږ په نظر، دغه ځمکنی حقایق نه دی. عینی شاهدان او زموږ راپورونه ښیی چی ډیر ملکیان د خارجی عسکرو له  خوا په نابېره توګه او د اخطار  پرته وژل شوی دی حتی دهقانان او شپانه یی هم وژلی دی.  دغه شان پیښو د بهرنیو یرغلګرو په خلاف د ولس، مجاهدینو او حتی د کابل د اداری په اردو کی د ځینو با ا حساسه عسکرو او صاحب منصبانو غصه راپارولی او د عکس العمل په توګه یی په بهرنیو عسکرو وخت په وخت  بریدونه کړی دی چی د تاسی  او د نړیوالو نه پټ نه دی.  مونږ هیله لرو چی پدی هکله د یوناما راپور باید په شواهدو او ځمکنیو حقایقو ولاړوی نه د خارجی قواوو په تشو ادعاوو او را پورونو.

داهم حقیقت دی کله چی د بهرنیو قواوو  په کاروان برید یا چاودنه وشی، نو هغوی بیله دی چی  هدف تعیین کړی او یا ورته معلوم شی ، هر پلو ته ډزی کوی، چی په نتیجه کی یی ډیر ملکیان وژل کیږی.  اوس د خارجی قواوو دغه  یو معمول ګرځیدلی دی.

پنځم – تاسی پخپل راپورکی  د ملکی تلفاتو ۷۴ سلنه طالبانو ته منسوب کړی . مونږ ددی یو اړخیزی تخمینی سره موافق نه یو. متاسفانه ، دا یوازی زمونږ د مخالفینو د راپورونو تائید دی چی تاسی ترسره کړی دی.  همداراز تاسی لیکلی چی د جنګ په دوران کی  ډیر ملکیان د طالبانو په ډزو لګیدلی دی، مونږ دغی ادعا سره هم موافقه نلرو. ددی وجه داده هرځای چی مونږ عملیات یا برید کوو،یا یی په مونږ کوی، په هر حالت کی ، مونږ  د خپلی منطقی او خلکو سره ښه بلد یو، ټول پیژنو نود  بیګناه خلکو د وژلونه ډډه کوو . لاکن خارجی قواوی او د کابل د اداری عسکر،   زمونږ د منطقي سره بلد نه دی، هرکس، هر بوټی او هره ونه ورته دښمن ښکاری او ډزی پری کوی. همداراز،  مونږ ټا نکونه او الوتکی نلرو بلکی دغه درنی وسلی د هغوی په اختیار کی دی چی  د ړندو بمباریو  او ډزو په نتیجه  کی یی ډیر ملکیان ژوند له لاسه ورکوی.

په جلال اباد کی د آی سی آر سی او  هند د قونسلګری په باره کی باید ووایو چی موږ پدغو بریدونو کی  لاس نلرو او په هغه وخت کی مونږ رد کړی دی.

 یوځل بیا تکراروو چی د ملکی تلفاتو مخنیوی ته مونږ ځان ژمن بولو او پدی اړوند همکاری ته  چمتو یو. هیله ده په افغانستان کی د ملکی تلفاتو د مسئلی د حل لپاره د تاسی له خوا په بیطرفانه ډول او د سیاسی ملحوظاتو پرته  طرزالعمل را مخ ته شی. موږ دداسی جوړښت  هرکلی او ورسره همکاری کوو. په  پای کی ،  تاسی ته یوځل بیا خپل احترامات او نیکی هیلی وړاندی کوو.

**د افغانستان اسلامی امارت**

**سیاسی دفتر**